# د افغانستان په نوي اساسي قانون کې د ښځو حقونه[1]

د مریم الف نوابي لیکنه[2]

__فهرست__


| خپرکی | | مخ |
|---|---|---|
| لومړی. | مقدمه ............................................................. | ٤ |
| دوهم. | روان کړکېچ ...................................................... | ٤ |
| | الف. له جګړې ورسته افغان ټولنه .................................... | ٥ |
| | ب. افغان ښځونه وړیښې ننګونې ....................................... | ٥ |
| | ج. له ماشومانو سره د ښځو د حقونو اړیکې .............................. | ٧ |
| | د. د افغانستان پرمختیا لپاره د ښځو د حقونو ارزښت ..................... | ٨ |
| دریم | په افغانستان کې د ښځو د قانوني حقونو تاریخي لرلید ........................ | ٩ |
| | الف. د ښځو د حقونو کورنی مشروعیت ................................. | ١٠ |
| | ب. لومړني اصلاحات ............................................... | ١٠ |
| | ج. د اوسمهالو اصلاحاتو پیل ........................................ | ١٢ |


---

١ د طبع حق، مریم الف نوابي، ٢٠٠٣. ټول حقونه خوندي دي.

٢ مریم الف نوابي په قانون پوهنه کې خپله ډاکتري د جورج ټاون د پوهنتون د حقوق له مرکزه ترلاسه کړې او په نړېوالو څېړنو کې یي د جورج مېسن له پوهنتون څخه بکلوریا اخیستې ده. نوموړې منل شوې چې د متحده ایالتونو د ویرجنیا په کامن ولت او د کولمبیا په سیمه کې خپلې مسلکي چارې پرمخ بوځي. نوموړې اوس واشنګتن ډي سي کې د دچرت Dechert, LLP په دارلوکاله کې د مرافعې او د معنوي شتمنې د مرستیالې په توګه کار کوي. نوموړې د افغانانو پر قانوني مسلو هم کار کوي. له هغې سره د برېښنالیك له لارې په دې پته تماس نیول کېدی شي: mnawabi@hotmail.com

# فهرست (پاتې)


| مخ | | | خپرکی |
|---|---|---|---|
| ۱۳ | کمونستي اغيز ..................... | د. | |
| ۱۳ | له جنسي برابري او عدالت سره اسلامي ملاتړ ..................... | | څلورم. |
| ۱۷ | نړيوال تړونونه ..................... | | پنځم. |
| ۱۷ | د ښځو د سياسي حقونو په اړه کنوانسيون ..................... | الف. | |
| ۱۸ | د بشري حقونو نړيواله لايحه ..................... | ب. | |
| ۱۸ | د کار تړونونه ..................... | ج. | |
| ۱۸ | اجباري دندې ..................... | د. | |
| ۱۹ | د نورو هېوادونو په اساسي قوانينو کې جنسي برابري او عدل ..................... | | شپږم. |
| | د اسلامي هېوادو اساسي قوانين | الف. | |
| ۲۰ | ۱. *ځانګړي حکمونه چې وايي ښځې او نر برابر حقونه لري* ..................... | | |
| ۲۲ | ۲. *هغه بندونه چې جنسي تبعيض ، او همدا راز د نژاد، ژبې، مذهب او نورو ځانګړنو پر بنسټ تبعيض منع کوي* ..................... | | |
| ۲٤ | ۳. *د برابري عمومي فقرې چې کوم ځانګړی جنس يا نورې ځانګړتياوې نه يادوي ، خو کېدی شي ټولو وګړو ته د برابرو* حقونو مانا ترې واخيستل شي. ..................... | | |
| ۲٥ | ٤. *هغه فقرې چې ښځو لپاره اضافي خونديتوب برابروي* ..................... | | |
| ۲٥ | ٥. *په يوۀ اساسي قانون کې د فقرو ټوليز يا عام تطبيق* ..................... | | |
| ۲٦ | د نامسلمانو هېوادو اساسي قوانين ..................... | ب. | |
| ۲۷ | ۱. *وروستی له جګړې وروسته تجربې* ..................... | | |
| ۲۸ | د افغانستان په اساسي قوانينو کې برابر حقونه ..................... | | اووم. |
| ۲۸ | د ۱۹٦٤ کال اساسي قانون ..................... | الف. | |
| ۳۰ | د ۱۹۷٦ کال اساسي قانون ..................... | ب. | |

# فهرست (پاتې)


خپرکی | مخ

ج. د ۱۹۸۷ کال اساسي قانون ........................................................ ۳۰

د. د ۱۹۹۰ کال اساسي قانون ........................................................ ۳۱

اتم . د افغانستان د نوي اساسي قانون په اړه سپارښتنې ........................................ ۳۲

الف. بنسټیز او منطقي دلیل ........................................................ ۳۲

ب. د نوي اساسي قانون د چلند او ژبې په اړه سپارښتنې ........................ ۳۳

۱. *ټول حکمونه باید روښانه طرح شي چې هېڅ حکم داسې تعبیر له شي چې یوازې پر یوه جنس د تطبیق وړ دی.....................* ۳۳

۲. *د "افغان" ټکی باید تعریف شي چې د ټاکلو ځانګړنو پر بنسټ د تبعیض مخه ونیول شي ..................................................* ۳۳

۳. *پر جنسیت سربېره، دحقونو او دندو د برابرۍ حکمونه باید په یوه وخت کې نورو هغوځانګړتیاو ته هم پام وکړي چې کېدی شي په افغانستان ناعادلانه تبعیض رامنځته کړي .............................* ۳٤

٤. *له اساسي قانون څخه وروسته، د نورو قوانینو او مقررو کره کتنه هم باید بشپړه شي چې د اساسي قانون له دندې سره سمون ومومي چې د جنس او نورو ځانګړتیاو پر بنسټ نا عادلانه تبعیض منع کوي.......* ................................... ۳٥

نهم. د خبرو عملي کول: د قوانینو د پلي کولو او نافذولو لارې چارې............ ۳٦

الف. د حقونو انفاذ........................................................................ ۳٦

ب. د تطبیق مقررات ........................................................................ ۳۷

لسم . نتیجه ........................................................................................ ۳۹

## لومړی. سریزه

یو لیکل شوی اساسي قانون د یوې ټولنې لوړ قانوني سند دی، یو ټولنیز قرارداد چې د وګړو او دولت تر منځ اړیکي ټاکي. اساسي قانون د وګړنیزو حقونو او ازادیو د شمېرلو د پیل ټکی دی، نه د پای ټکی. د ښځو د قانوني حقونو د بیا پرځای کولو په اړه د اساسي قانون د کمیسیون، د افغانستان د اسلامي دولت لپاره د اساسي قانون د تسویدولو د مسولې اداري، چلند به نه یوازې افغانستان کې راتلونکې قانونې بېلګلې رامنځته کړي، بلکه د هغې ټولنې ارزښتونه او ارمانونه به هم وټاکي. وروسته به بیا د دغو ارزښتونو او ارمانونو د تعبیرخرنګوالی له اساسي قانون څخه د اخستل شوو قوانینو او مقرراتو پر پلي کولو او تطبیق اغیز کوي.

د ښځو د حقونو مسلې ته باید په یوازې توګه کتنه ونه شي، بلکه د بشري حقونو د قانوني ساتنې او د له ناعادلانه تبعیض څخه د افغانستان د ټولو خلکو د ساتنې د اړتیا د یوې برخې په توګه ورسره چلند وشي. که څه هم چې د تېرو ۲۳کلونو جګړې په ټوله موده کې د ښځو پر حقونو تېری شوی، خو دا پوره تیري له اسلامی او افغاني قوانینو سره سمون نه لري. اسلامي قانون او فلسفه چې یوه موخه یې ټول بشریت ته د عدل، انصاف او پت تر لاسه کول دي، د جنسي برابری او عدل، چې د بشري حقونو یو عنصر دی، ملاتړ کوي. د افغانستان په مخکینیو قانوني بیلګو کې هم د جنسي برابري او عدل ملاتړ شوی، چې د ١٩٦٤ کال اساسي قانون او را وروسته قوانین ، او د افغانستان له لوري د څو نړیوالو تړونونو منل یې ثبوت دی.[٣]

## دوهم. روان کړکېچ

د افغان ښځو د اړتیاو د معلومولو په مهال مهمه ده چې هغو ته د ټولنې د یوې برخې په سترګه وکتل شي، نه د یوې ګوښه کړل شوې ډلې په توګه، څکه هغو ته په جلاتوګه نظر کول د برابري پر نظریې ټینګار له منځه وړي او دا حقیقت له پامه غورځوي چې د ښځو حقونه د بشري حقونو یوه برخه ده. دا پوره نظر له هغه پوهاوي او شمېرو سره پیلیږي چې افغان ټولنه په عمومي توګه ورسره

---

٣ وګورئ V infra

مخامخ ده، او د دي خبرې په پوهېدو چې ښځې په دې شمېرو کې پر بدلونونو اغيز کوي ،او کيدی شي ترې اغيزمنې شي.

**الف. له جګړې وروسته افغان ټولنه**

اټکل کيږي چې د ۲۳کلونو جګړې په نتيجه کې تخمين يو عشاريه پنځه مليون سړو، ښځو او ماشومان خپل ژوند له لاسه ورکړی وي.[٤] افغانستان په نړۍ کې تر ټولو ډېر کډوال لري، شاو خوا ٦عشاريه ۲ مليون کډوال له هېواده بهر ژوند کوي، چې په سلو کې اتيا يې ښځې او ماشومان دي.[٥] دغه هېواد همداراز په نړۍ کې له ترټولو لوړشمېر کورنۍ يا په هېواد کې دننه بې ځای کيدنې سره مخامخ دی، همدا اوس يې شمېر د يو عشاريه يو او يو عشاريو پنځو تر منځ اټکل کيږي.[٦] دغلته د ځمکنيو ماينونو شاو خوا يو مليون قربانيا شته دي او "افغانستان د نړۍ هغه هېواد دی چې ماينونو او ناچاودلو مهماتو تر ټولو ډېر اغيزمن کړی".[٧]

**ب. افغان ښځو ته وړپيښې ننګونې**

افغانستان د ملګرو ملتونو د جنسي پرمختيا د شاخص په پای کې ځای لري.[٨] د افغان ښځو د

---

٤ وګورئ م شوکت حسين، د ترهګرۍ پرضد جګړه: افغانستان کې وضعه لاهم خپځپانده ده اندېپندنټTHE INDEPENDENT ( ۲۰سپټمبر، ۲۰۰۲)

٥ وګورئ کډوالو لپار د ملګرو ملتونو د عالي کميشنري شمېرې، د ۲۰۰۲ له اپرېل نه چې www.unhcr.ch. کې شته دي.

٦ وګورئ همدا اخذ

٧ وګورئ افغانستان؛ بيا رغاونې او بيا ودانولو ته د لومړنيو اړتياو ارزونه، دملګرو ملتونو پرمختيايي اداره، (جنوري ۲۰۰۲) په دې پته شته دی .www.undp.org

٨ وګورئ انجېلا وايټ، افغان مېرمنې له لومړنيو بشري حقونو محرومې، د مبدل تېنبسي دولتي

سواد کچه  په سلو کې له ۱۱ تر ۲۱ پورې اټکل کيږي.[۹]  اټکل دی چې په سلو کې يوازې درې انجونې لومړنيو ښوونځيو ته ځي.[۱۰]  د کلونو جګړې او نښتو له امله، ګڼ شمېرمېرمنې کونډې شوې او څه د پاسه ۵۰۰۰۰۰ افغان ښځو ته د کورنيو مشرې ورله غاړې شوې.[۱۱]  دهغو افغان ښځو ، چې په افغانستان يا ګاونډيو هېوادو کې د کډوالو په کمپونو کې اوسيږي، د عمر اټکليز اوږدالی ۴۵ کاله دی، په داسې حال کې چې د نارينه و لپاره ۴۷ کاله دی.[۱۲]  افغانستان يو له لږو هېوادونو څخه دی چې د نارينه و د ژوند اټکليزه موده  تر ښځو اوږده ده-- دا په داسې يوه هېواد کې چې د نړدې پنځه ويشتو کلونو لپاره بې وسله والې جګړې ليدلې دي.[۱۳]

---

پوهنتون خپرونه، مارچ ۲۰۰۱.

۹  وګورئ  نوې غږونه: افغان ښځې د طالبانو له فشارنه را وځي،  ATLANTA J. &CONST.AI (اکتوبر۹، ۲۰۰۲) (د ۲۰۰۱  کچه ۱۱٪  اټکلوې)؛ CIA WORLD FACTBOOK 2002 (۱جنورې ۲۰۰۲)  ( د ۱۹۹۹ کچه ۲۱٪ اټکلوې)، معلوماتي يادښت: افغانستان، دمتحده ايالتونو د بهرنيو چارو وزارت (جون ۲۰۰۲) ( د ۱۹۹۹ کچه ۱۵٪ اټکلوې).

۱۰  وګورئ حميرا ناصرې  او کرول لې دوك، د افغانستان د ښيا رغاونې او ښيا ودانولو د لومړنيو اړتياوو څېړنه،  نړېوال بانك او UNDP د جنسيت په اړه مقاله په www.lnweb18.worldbank.org/sar/sa/nsf/afghanistan(2002).

۱۱  وګورئ  افغانستان، د ښيا رغاونې او ښيا ودانولو د لومړنيو اړتياوو څېړنه، د ملګرو ملتونو پرمختيايي پروګرام (جنورې ۲۰۰۲) شته ده په www.undp.org

۱۲  وګورئ معلوماتي يادښتونه، افغانستان، دمتحده ايالتونو د بهرنيو چارو وزارت (جون ۲۰۰۲)  (د ښځو د ژوند اټکلي موده ۴۶ عشاريه ۶۲ ښيي)    CIA WORLD FACTBOOK 2002 (د ښځو د ژوند اټکلي موده د ۲۰۰۲ کال لپاره ۴۵ عشاريه ۸۵ او د نارينه و ۴۷ عشاريه ۳۲ ښوولې) دامعلومات د انټرنټ په دې پتې شته دي      http://www.state.gov/r/pa/ei/bgn/5380.htm.

۱۳  وګورئ  هيلرې مبيل،  افغان ښځو لپاره بدلون ورو،  نشنل جيوګرافي نيوز  ۱۲مارچ ۲۰۰۲.

### ج.     له ماشومانو سره د ښځو د حقونو تړاو

د دې لپاره چې ښځې ماشوم زېږوي، دوی پر هغه څه خورا ډېرې اغیزمنې کیږي چې د دوی پر بچیانو راځي، هم له زېږېدو وړاندې او هم وروسته . افغانستان کې په هرو دېرشو دقیقو کې یوه ښځه له امېدوارۍ سره د تړلو ستنونزو له امله مري.[14] په سلو کې پنځه اویا افغان مېرمنې د روغتیایي اسانتیاوو د نشتوالي له امله د مور لپاره له لازمي پاملرنې بې برخې دي.[15] افغانستان میندو د مړینې یو له تر ټولو لوړو کچو لري د هرو ۱۰۰۰۰۰ ژوندیو زوکړو پر سر ۱۷۰۰ مړي.[16] له زېږېدو وروسته د ماشومانو د روزلو په اړه شمېرې هم همدومره خواشینونکې دي. د ټولو ماشومانو څلورمه برخه پنځه کلنۍ ته له رسېدو مخکې مړه کیږي.[17] د افغان ماشومانو په سلو کې ۵۰ پر مزمنې خوارځواکۍ اخته دي.[18] د افغان کوچنیانو په سلو دېرش یتیمان دي.[19]

---

۱۴ وګورئ، افغانستان د روغتیایي حالت خبړنه، د روغتیا نړیوال سازمان، په www.who.int/disasters/repo/7543.doc (مارچ ۲۰۰۲).

۱۵ پورته اخذ وګورئ

۱۶ وګورئ د افغانستان بیا رغاونه ، څېنې اساسي حقایق، د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره، شته دي په : www.undp.org/afghanistan/basicfacts.htm ( په وروستي ځل لیدل شوې:(۱۷اکتوبر ، ۲۰۰۲)

۱۷ وګورئ افغانستان، د بیا رغاونې او بیا ودانولو د لومړنیو اړتیاوو خبړنه، د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام (جنوري ۲۰۰۲)www.undp.org

۱۸ کوین کوغلینKavin Coughlin افغانانو لپاره د ماشومانو بودجه کمه شوه، د خیریه ټولنې راتلونکې ناخرګنده، خو ښونکې او زدکونکې ۱۰عشاریه ۳ ملیون ډالره چې په متحده ایالتونو کې ټول شوې ستایي. ده ستار لبجر (۱۷سپټمبر ۲۰۰۲)

۱۹ همدا اخذ

ماشومانو لپاره د ښوونې او روزنې، روغتیايي اسانتیاوو او لومړنیو اړتیاو نشتوالی افغان مېندو لپاره د لویو احساساتي او رواني ټکانونو سبب ګرځي.

د افغان ښځو د حقونو د ترلاسه کولو او ساتلو لپاره د تګلارو او قوانینو په جوړولو کې دماشومانو پر پرمختیا باندې د هغو د اغیزو پر اهمیت پوهیدل مهم دي. کله چې ښځې د زدکړې، کار او روغتیايي پاملرنې لپاره برابر فرصتونه ولري، نه یوازې په خپله ددوی ژوند به ښه کړي، بلکه د هغو پر کورنیو هم مثبت اغیز لرلی شي. د بېلګې په توګه ، یوه لوستې ښځه ښايي خپلو ماشومانو ته د ښوونې او روزنې د ورکولو لازمې وسیلې په لاس کې ولري. یوه ښځه چې اقتصادي سرچېنې لري، ښايي په ښه توګه وشي کولی خپلو ماشومانو روغتیايي خدمتونه برابر کړي. نو په دې توګه د افغان ښځو د قانونې حقونو ساتنه به پر افغان ماشومانو مثبت اغیز ولري.

## د. د افغانستان د پرمختیا لپاره د ښځو د حقونو ارزښت

د افغانستان په حقوقي نظام کې د جنسي برابري او عدالت په پام کې نیول نه یوازې افغان ښځو اوماشومانو لپاره مثبتې ګټې لري، بلکه د هېواد پرمختیا ته هم ګټه لري. اقتصادي وده په هغو هېوادونو کې چټکه ده چې د روغتیا، ښوونې او روزنې، کار او د ملکیت د حقونو په برخه کې دښځو او نارینه و تر منځ واټن کم وي.[20]

د دې لپاره چې افغانستان کې د هرو څلورو نارینه و په وړاندې د ښځو شمېر شپږ دی، دا خبره منل شوې چې افغانستان کې د ژوند په ټولو اړخونو کې د ښځو ګډون د هېواد راتلونکي او پرمختیا ته خورا مهم دی.[21] په سیاسي ژوند کې د ښځو ګډون د شفافیت، ټولنیز استازیتوب او

---

۲۰ وګورئ ناصري او لو دوك، سوپرا نوټ ۱۰.

۲۱ وګورئ په دود کې بدلون: افغانستان کې د ښځو د ګډون بیرته پرځای کول، په دود کې د بدلون په کنفرانس کې وړاندې شوې مقاله، د هارورډ پوهنتون، ښځې او عامه تګلارې پروګرام، ۷-۹، ۲۰۰۱.

دموکراتیزه کولو او د فساد کمولو ته لار اوارويِ.[۲۲]

که د افغانستان د قانون په احکامو او بهیر دواړو کې د جنس په شان ځانګړتیاو پربنست د ناعادلانه تبعیض په وړاندې خوندیتوب نه وي، د ټولنې یوه لویه برخه به محرومه شي، چې د افغانستان بالقوه پرمختیا ته هم زیان ور اړوي.

پر دې باندې پوهېدل مهم دي چې افغانستان کې وېرونکو شمېروته په پام سره، ټولینز-اقتصادي پرمختګ نه شي رامنځته کیدی که چېرې حقوقي چوکاټ په قانون او د هغه په وړاندې د ټولو افغانانو لپار د برابري ملاتړ ونه کړي. افغان ښځو لپاره افغانستان کې په سیاسي ژوند کې برابر ګډون، د ښوونې او روزنې او کار لپاره د برابرو فرصتونو لرل، دروغتیایي خدمتونو او نور حقونو برابر ترلاسه کول یوازې باید له قوانینو او حقوقي ادارو څخه، د له "پورته څخه ښکته ته" د چلند له لارې رامنځته نه شي ، بلکه د ټولنیزو او پرمختیایي پروګرامونو او د "له ښکته نه پورته" چلند له لارې . دغه دوه ازمویل شوي چلندونه به د افغان ښځو لپاره د حقونو د ښه ترلاسه کولو په برخه کې مرسته وکړي، نه یوازې په خبرو، بلکه د هېواد په ټولنیز-اقتصادي او سیاسي ژوند کې د دې حقونو په پلي کیدو.

## دریم. په افغانستان کې د ښځو د قانوني حقونو تاریخي لرلید

د افغانستان په درست تاریخ کې د ښځو حقونو کورني او بهرني کړکېچونه منعکسه کړي دي. بیلابیلو سیاسي ډلو د ښځو د حقونو مسله پر نورو ډلو باندې د نیوکو او د خپلو عقیدو لپاره د ملاتړ د ترلاسه کولو په مقصد کارولي دي. افغانستان کې د ښځو د حقونو مسلې ته همدا راز د افغانستان په سیاست کې د بهرنیو هېوادونو د لاسوهنې له هڅو سره هم تړاو ورکړل شوی دی.

---

۲۲ وګورئ ناصري او لو دوك، سویرا نوټ ۱۰

### الف. د ښځو د حقونو لپاره کورني مشروعيت

په افغانستان کې تاريخ ښولي چې کله بهرنۍ لاسوهنې يا اغيز ته د ښځو په حقونو کې د اصلاحاتو د يوۀ محرك په سترګه کتل شوي، نه دا چې اصلاحات پريښودل چې له دننه څخه وده وکړي، بدلونونه د اوږدې مودې لپاره نه دي پايېدلي. محافظه کاري او دوديالي هرو مرو د ښځو د حقونو له مسلې نه ګټه اخلي چې واکمن حکومت له بهرنيو ګټو سره وتړي يا پر حکومت تور ولګوي چې دافغاني کلتور يا قومي دوددونو په خلاف چليږي. دا تورونه وروسته بيا د حکومت او د هغه د اصلاحاتو پر ضد د وګړني ملاتړ د رامنځته کولو لپاره کارول کيږي. په ډېرو مواردو کې دغه بهرنۍ ګټې د ښځو په حقونو کې د پرمختيا په مخنيوي کې بريالۍ شوې دي.

د افغانستان د نوي اساسي قانون د تسويد په بهير کې د ښځو د حقونو مسله ښايي يوه نادره ايزه مسله پاتې شي، په ښکاره يا په پټه، او ښايي يو ځل بيا د دې لپاره يو سمبول شي چې هېواد کوم لورى بايد غوره کړي. که د ښځو د حقونو مسله يوازې د لويديځ پلوو اغيزو د خوښولو لپاره يوه اجندا وګڼل شي، محافظه کاره ډلې ښايي له دې مسلې ګټه واخلي چې د حکومت پر ضد چې دا ډول بدلونونه راولي ولسي ملاتړ غونډ کړي. دا فشار به له اسلامي قانون يا فلسفې سره د سمون د مشروع انديښنو پر بنسټ نه وي، چې د ادارې يو له لومړنيو نظامونو څخه و چې ښځو ته به يې قانوني حقونه ورکړل، بلکه د نوي حکومت د بې اعتباره کولو د هڅو پر بنسټ چې نور واك او ملاتړ تر لاسه کړي.

### ب. مخکيني اصلاحات

په افغانستان کې د ښځو د حقونو په ډګر کې اصلاحات په ۱۸۸۰ کلونو کې هغه مهال پيل شول چې امير عبدالرحمن خان پر تخت کيناسته . امير عبدالرحمن خان له لېورۀ سره د کونډې د اجباري واده په لمنځه وړلو،[۲۳] د واده د سن په لوړولو او ښځو ته په ځانګړو حالات کې د طلاق

د حق په ورکولو، بو شمېر دوديز قوانين بدل کړل.

وروسته بل باچا امير حبيب الله خان، چې له ۱۹۰۱ تر ۱۹۱۹ پورې واکمن، په ودونو کې خورا ډېرو بې ځايه لګښتونو باندې د بنديز پر لګولو او له خپلو ښځو څخه بې د پردې (چادرې) په لرې کولو، چې په عام محضر کې د لويديځوالو په جامو کې ليدل کېدې، د پخواني باچا د اصلاحاتو اجندا ته دوام ورکړ.

په ۱۹۲۰ کلونو کې باچا امان الله خان د ښځو د حقونو په برخه کې د وخت تر ټولو ډېر ازادخيالي اصلاحات وړاندې کړل. هغه خپله مېرمن ملکه ثريا پرېښوده چې په مدني ټولنه او اداره کې په داسې يوه مهال کې برخه واخلي چې ښځې د افغانستان په سياسي صحنه کې موجودې نه وې. ملکې ثريا په کال ۱۹۲٦ کې د خپلواکۍ په اومه کليزه کې د ښځو بوې غونډې ته په بوې وينا کې دوديالي په ډاګه وننګول. هغې وويل: " خو داسې فکر مه کوئ چې زمونږ هېواد يوازې سړيو ته اړتيا لري چې چوپړ بې وکړي. ښځې هم بايد خپله ونډه واخلي، همغسې چې د اسلام په صدر کې ښځو کول."[٢٤]

د باچا امان الله يو مخيزاصلاحات د افغانستان د عصري کولو لپاره د پراخو هڅو يوه برخه وه. حکومت د ښځو د حقونو په اړه په داسې وخت کې چټک اصلاحات رامنځته کړل چې ټولنيز، اقتصادي او کلتوري اړاني چمتو نه وې او محافظه کارو چې غوښتل بې پر شته وضعې خپل ولکه وساتي، دغو موسسو ته په بد نظر کتل. کله چې باچا امان الله د ښځو لپاره د واده کولو عمر ١٨ کالو او د سړيو لپاره بې ٢١ کلونو ته پورته کړ او په يوه وخت کې بې له خوښځو سره واده کول

---

٢٣ دا ډول واده هغه وخت رامنځته کيږي چې د ښځې کورنۍ هغه اړباسي چې د مېړه له مړينې وروسته د هغه له ورور سره واده وکړي.

٢٤ لويس دوپري Louis Dupree، افغانستان ٤٦ (١٩٧٣)

منع کړه، قومي مشرانو د اصلاحاتو مخالفت پیل کړ او په پای کې بې باچا اړ کړ چې خپلې ځینې تګلارې بېرته په شا کړي. بیا تر ۱۹۵۰ کلونو پورې د ښځو د حقونو په برخه کې اصلاحات هغومره مخ ته لاړل نه چې په دې موده کې تللي و.

### ج. د اوسمهالو اصلاحاتو پیل

د ۱۹۵۰ کلونو په بهیر کې ټولنیزاو اقتصادي بدلونونه د ښځو په حقونو کې د اصلاحاتو سبب شو. "د ښځو لپاره یوه اړتیا ولیدل شوه چې له اقتصادي پلوه فعاله شي چې له افغانستان سره د پرمختیایي هدفونو په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي."[25] په کال ۱۹۵۹ کې د شاهي کورنۍ غړې له پردې پرته په عام محضر کې ځرګندې شوې او حکومت ښځې وهڅولې چې پرده (چادري) لرې وغورځوي. حکومت همدا راز د واده لګښتونه کم کړل او ښځې یې هڅولې چې په اقتصادي چارو کې برخه واخلي. په همدې وخت کې و چې افغانستان یو له لومړنیو هېوادو څخه شو چې د ښځو د سیاسي ګډون په اړه کنوانسیون لاسلیك کړي، چې افغان ښځو ته یې له نارینه و سره برابر حقونه ورکول چې دولتي څوکۍ وچلوي، وېې لري او ورته وټاکل شي. دا مخکې له هغه و چې سویتزرلند (سویس) کې ښځو د رایه ورکولو حق ترلاسه کړي.

د ۱۹٦٤ کال اساسي قانون چې د محمد ظاهرشاه تر مشرۍ لاندې نافذ شو د "برابرۍ" یو عمومي بند درلود چې یې د افغانستان خلکو ته د قانون په وړاندې د برابرو حقونو او دندو حکم کوه. مهمه دا ده چې په ۱۹٦۰ او ۱۹۷۰ کلونو کې اساسي قانون داسې تفسیر شو چې جنسي برابري ورکوي او په دې وخت کې و چې ښاري سیمو کې ښځو سیاست، ښوونې او روزنې، طب، قانون او نورو برخو کې پرمختګ وکړ.

---

٢٥ ډاکتر هومان احمد غوش، دښځو پلوي لرلید: د سپټمبر یولسمه او افغان ښځې ، ۲ لمر-آفتاب، ګڼې ۲ او ۳ (۲۰۰۱).